باری جمال

۲۰۱۷/۱۱/۲٤

# په کندهار کی د تمثیل د هنر سابقه



نمایی از قندهار قرن ۱۸

تمثیل یا په انګلیسی ژبه کی چه ور ته (اکت) وایی د ښکلو هنرونو په قطار کی، یو ښکلی هنر دی، دغه هنر د یوی ژبی، کلتور، ادبیاتو، او فرهنګی ښکلاو، د ښکاره کولو غوره وسیله ده.

د تمثیل هنر که دقیق و څیرل سی نو رېښتی به یی حتمی په ډېرو زړو انسانی ټولنو کی و موندل سی. د تمثیل هنر په ذهنی او عینی ډول د یوه شخص او یا د یوی پېښی او واقعی حالات د حرکاتو او اعمالو په ښولو سره دوباره را ژوندی کول دی. تمثیل کیدای سی چی فقط تفریحی جنبه ولری، یا دا چی د اجتماعی پند او نصیحت پیغام پکښی نغښتی وی او یا د مهمو تاریخی پیښو حکایت پکښی څرګندوی.

د دغه لنډی مقدمی په وړاندی کولو سره غواړم په کندهار کی د تمثیل د هنر سابقه و څیړم او د دغه هنر مخکښه اشخاص وپیژنو. د تمثیل هنر په کندهار کی سل کلنه صابقه لری، د ستیج پر سر د ډرامو د ښکاره کولو لړی په رسمی ډول د کندهار د ښاروالی د صحنه ثمثیل او د، ډرامو د دتکره هنرمندانو هر یو، حکیم جان، سید محمد شین خالی، عبدا لرزاق پینتون، اختر محمد خینه، جان محمد خان پلار، عبدالرحیم ننګیالی، عبدالمقیم سپیره، فضل محمد فضلی، نادر جان او عبدالرووف مخلص، په هنر نمایی تر سره کیدل. اختر محمد خینه د دی ډلی مشهور ټوکی او ساعت تیری غړی و .

د دغو ممثلینو په قطار کی، سید محمد شین خالی د هند په سینما کی کاری تجربه درلودل په مشهور هندی فلم (المول ګړی) کی رول لوبولی دی. کامیابه تکره ممثل فضل محمد فضلی د دغو ممثلینو له ډلی څخه بله وتلی څهره ده چی په ورسته کلنو کی یی په ټول هیواد کی په پښتو ډرامو کی اوریدونکی درلودل.

جان محمد خان پلار په کندهار کی د ډرامو د ممثیلینو تر ټولو مشهور ممثل پا ته سوی دی، ده د ترکی په هیواد کی درس لوستی و، د تمثیل د هنر ښه استعدادی درلودی، فضلی دده د شاگردانو د جملی څخه و، ده د تمثیل د هنر د پاره نور شاگردان هم وروزل لکه عبدلاحد صالحی، عبدالرحمن مجرم، او ځینی نور. د پلار لور (زرگینه) د راډیو افغانستان د ډرامو مشهوره ممثله پاته سوه چی ښه وځلیدل.



نمایی از قندهار قرن ۲۰

عبدالرحیم ننگیالی د دغو ممثلینو د ډلی څخهلوی هنرمند و، نوم وړی د کندهار د ښاروالی مامور او د صحنه تمثیل مدیر هم و، دی یوازنی کندهاری مجسمه ساز دی چه مای هنری کارو نه ۵۵ کاله د مخه د کندهار د جشن په نندارتون کی لیدلی وه، دده ورستنی کار د داود خان مجسمه وه.

د کندهار د ډرامو او د تمثیل د هنر لومړی ستیج په هرات دروازه کی د پخوانی ښرکت پشتون و څنگ ته په یو لوی اوږده دهلیز کی جوړ سو، ډرامی اکثرا انتقادی او د اجتماعی نیمگړتیاو د را بر سیره کولو د پاره جوړی دی، د هنرمندانو او ممثلینو نمایشات د خلګو په چک چکو سره بدرقه کیدل.

د مخه تر دی چی د ستیج پر سر د تمثیل هنرنمایی په کندهار کی رواج ومومی په کوڅه او بازار کی ددی فن خلګ موجود وه، د دغی ډلی څخه یو نفر (سنګر حوالدار) نومیدی چی په خپلو ټوکو او تمثیل سره خلګ خنده ول، بل سړی کاغذی دیب نومیدی چی د مسخرو او ساعت تیری نوم ی (شا ه مګس) و، شاه مګس ۵۵ کاله د مخه د کندهار په جشنو کی ځانته کمپ درلودی، سیل بین خلګ د یوی افغانی په بدل کی کمپ ته ور داخلیدل او دده د هنر سیل به ی کاوه، دده هر نمایش یو ساعت وخت نیوی. ده د کاغذو څخه لوی دیب جوړ کړی وو، د دیب په مینځ به ور ننوتی او په رقم رقم، حرکاتو ی خلګ خنده ول، په نمایشاتو کی ی ډهل او سرنا هم ږغیدل.

د ښاروالی د صحنه تمثیل ډرامی به په ۳ یا ۴ پردو کی اجرا کیدلی، د وقفی په وخت کی به کله کله سندره هم ویل کیده، یا به عبدالروف مخلص، په دریشی او شپو داره خولی پر سر و تماشاچیانو ته په اکټ سره سندره ویل.

په ډرامو کی محلی لباس، دریشی، شپو خولی، عسکری لباس او کله به د جنرالی لباس م څخه هم استفاده کیدل، د ښاروالی د ډرامو لړی به د استقلال په جشن کی هم فعاله وه، د هر نمایش په شروع او ختم کی به د ښونځی ښاګردانو ملی بیرق په لاس او ترانه ویله.

د کندهار د ښاروالی د ډرامو ستیج تر دو کالو پوری فعاله و، نمایشات هره ورځ د ماز پیښین پر دری بجی شروع کیدل او دوه ساعته ی دوام کوی، د ټکټانو بیه، دوی افغانی او څلور افغانی وه، د ستیج و مخ ته اوږدی د لرګو چوکی د درو یا څلورو نفر

و د پاره به ی اینبی وی، د هر نمایش په ختم کی به د هغه نمایش د تکټانو عاید د هنرمندانو ترمینځ ویشل کیدی او په دی ترتیب ممثلینو خپل معاش اخیستی.
د ښاروالی د ستیج د ډرامو مثبت اثر د ښونځی تر دروازو پوری ورسیدی، د کندهار د میرویس لیسی او احمد شاه بابا د لیسی د ډرامو ستیج د نمایشاتو مخکښنه ځایونه سوه، د میرویس د لیسی د ډرامو تکړه ممثلین هر یو عبدلاحد صالحی، داود مسلم، رحمت کرزی او عبدالباری جهانی، مشهوره چهری سوی، په دی لړ کی د احمد شاه بابا د لیسی د ډرام د ستیج مشهوره لوبغاړی، محمد عمر ُفولاد و چی د چار چاپلین قد او اندام ی درلود او د هغه رول ی ښه ادا کاوه، ور پسی نور احمد چمبر کمار، محمد نبی پاړسیبان، معلم صمد، سید جان فوټبالر، اسد کرزی، عزیز بابی، یوسف پښتون، معلم خوشحال او محمد عمر خیری وه.
په کندهار کی د ستیج پر سر د ډرامو لړی د عبدالغنی خان گردیزی د نایب لاحکومگی په وخت کی ښه رونق و موندی او دا سلسله په لړ یا ډیر کیفیت سره د روسانو د حملی تر وخته پوری دوام و موندی.
په کندهار کی د ډرامو او د تمثیل د هنر بل مشوق، محمد حلیم سلیمی و، دی ممثل نه و مگر د تمثیل د هنر علاقهمند و، سلیمی یو ځل د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د ریاست و شاته هنری ستیج جوړ کی چی پر هغه باندی حاجی محمد کامران د افغانستان تکړه ممثل او عبدالحمید کندهاری سندر غاړی، هنرنمای کول او د دوی سره یو ځای به د کندهار محلی سندرغاړی (معشوق) هم په خپل خواږه آواز کی سندری ویلی.
د ټولو ممثلینو او هنرمندانو یاد دی، تل پاته

پای